**بسم الله الرحمن الرحيم**

# د بدن غړي پيوندول، د مړي جسد ازمويل او اختلاط په اړه شرعي حکم

(ژباړه)

لطفي فقيه ته:

**پوښتنه:**

د حزب التحرير له امير څخه ځو پوښتنې:

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

**لومړۍ پوښتنه:** په هغه کتابګوټي کې چې "د مصنوعي القاح - د بدن د غړي پيوندولو... په تړاو د شريعت حکم" په اړه شيخ عبدالقديم زلوم (رحمه الله) ليکلی دی، راغلي چې د حزب التحرير له نظره له جسد څخه ژوندي وجود ته د غړو لېږد حرام دی. له دې پرته چې دې ته پام وشي، چې ياد غړی د يوه کس د حتمي مرګ مخه نيسي. د زړه پيوندول يا د يوې ناروغۍ درملنه لکه د سترګې د قرينې پيوند. له دې کتابګوټي او فقهي دوسيې څخه داسې جوتېږي چې د جسد ازموينه هم حرامه ده.
زما د مالوماتو له مخې اسلام خلک د درملنې څېړلو ته هڅولي دي. ان که درمل له يوې حرامې سرچينې هم وي، لکه په درملو کې په کمه کچه الکول.

**دويمه پوښتنه:** د جسد ازموينې حرمت د طب محصلين د انسان د جسد په تړاو له پوهې او زده کړې څخه محروموي؛ دوی به څه ډول خپل کارونه او جراحي عمليات سرته ورسوي، په داسې حال کې چې دوی د انسان د جسد په اړه ونه پوهيږي؟ د جسد ازموينې حرمت د عدلي طب ډاکتران د جرم د څرنګوالي له معلومولو څخه راګرځوي، چې جرم څه ډول تر سره شوی دی. له همدې امله د هغو مالوماتو ورکولو مخه نيول کېږي چې پر بنسټ يې پوليس د جرم په څرنګوالي پوهېږي او يا د جرم په تفکيک کې مرسته ورسره کوي.

زه غواړم د اختلاط په اړه د اسلام په ټولو احکامو پوه شم، ډېره مننه.

لطفي فقيه؛ په تونس کې فارمسېسټ

۱۱/۱۱/۲۰۱۸

**ځواب:**

وعليکم السلام ورحمة الله وبرکاته!

مخکې له دې چې ستا پوښتنو ته په ځانګړي ډول لومړۍ او دويمې ته ځواب ووايم، غواړم دې ته اشاره وکړم چې شرعي احکام د دوی له دلايلو څخه اخيستل شوي دي. د مجتهد کار دا دی چې کله د احکامو پلټنه کوي، نو له شرعي نصوصو څخه استنباط کوي، ترڅو د شريعت په حکم پوه شي يا يې پر ځای يو داسې حکم استخراج کړي چې د مجتهد له نظره مناسب وي يا هم اړتيا وي ورته. د اجتهاد موخه دا ده چې داسې هڅه وشي، ترڅو شرعي حکم پيدا شي، نه عقلي حکم. دا ناسمه ده چې د شرعي حکم د استنباط پر مهال اړتيا ته وکتل شي او د داسې شرعي حکم پلټنه وشي چې د خلکو اړتياوو يا غوښتنو ته ځواب ووايي. ځکه په دې ډول بيا دا د شريعت حکم نه، بلکې د عقل حکم دی. د اجتهاد پر مهال د اړتيا وړ څېړنه د دې لپاره ده چې شرعي حکم پيدا شي؛ که شرعي دليل يو ځانګړي حکم ته په ځانګړې موضوع کې اشاره کوي، نو حکم هغه څه دی چې تبنې شوی دی او د خلکو اړتياوې بايد له شرعي احکامو سره سمې بدلې شي، نه دې شرعي احکامو خلاف. يا په بل عبارت، دا روا نه ده چې شرعي حکم ته دې د خلکو د اړتياوو او غوښتنو سره سم بدلون ورکړل شي يا دا چې دوی فکر وکړي دا يوه اړتيا ده. د دې پرځای بايد د خلکو اړتياوې له شرعي حکم سره سمې بدلې شي، ځکه د الله سبحانه وتعالی حکم هغه څه دی چې بايد عمل پرې وشي.

اوس ستا د دريو پوښتنو ځواب ته راځو:

**لومړي:** د بدن د غړي پيوندولو په اړه ستا پوښتنه څرګنده ده. تا هغه دلايل کتلي چې د مړي له جسد څخه د غړو انتقال تحريموي. د چا وينه چې د ژوندي کس لپاره مقدسه ده، لکه څنګه چې يې د مصنوعي القاح په کتابګوټي کې يادونه شوې ده. د مړي له جسد څخه ژوندي وجود ته د بدن د غړو د انتقال د حرمت په اړه دوه دلايل شته چې په لاندې ډول دي:

۱. د مړي تر مرګ وروسته يې د جسد اختيار هېڅوک نه لري. د شرعي دلايلو له مخې نه مړی او نه يې هم وارثان د جسد اختيار لري. له همدې امله مړ شوی کس او وارثان يې دا حق نه لري چې د جسد يو غړی يې هديه کړي، ځکه دا جسد نه د دوی ملکيت دی او نه يې دوی اختيار لري.

۲. د دې جواز نه شته چې د مړي د جسد تقدس دې تر پښو لاندې شي او يا دې کوم زيان ور ورسېږي او د دې جواز هم نه شته چې د مړي جسد دې ټوټه ټوټه شي. د لاندې دلايلو له مخې:

الف: د مړي د جسد د ټوټه کولو او  ماتولو د حرمت په تړاو، «لاندې احاديث په صراحت سره وايي چې د مړي جسد د ژوندي جسد په څېر سپېڅلی دی. دا احاديث دا هم وايي چې د مړي د جسد سپېڅلتوب تر پښو لاندې کول او د هغه ټپي کول داسې حکم لري لکه د يو ژوندي جسد تقدس تر پښو لاندې کول او ټپي کول.

نو، لکه څرنګه چې یو چا ته د دې جواز نه شته چې د یو ژوندي شخص پر جسد د معدې څېرلو، غاړې پرې کولو، سترګې ایستلو یا هډوکي ماتولو سره تېری وکړي، همدا راز د مړي پر وړاندې هم یادې کړنې ترسره کول ناروا دي. لکه څرنګه چې یو ژوندي شخص ته تکلیف رسول، وهل یا ټپي کول ناروا دي، په همدې ډول د مړي له جسد سره هم یادې کړنې ناروا دي» د لاندې احادیثو له مخې:

د مومنانو مور عایشه رضي الله عنها، له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې وایي: «**كَسْرُ عَظْمِ الْمَيِّتِ كَكَسْرِهِ حَيّاً**» ***ژباړه: "د یوه مړه شوی شخص د هډوکي ماتول داسې دي لکه دی چې ژوندی وي او هډوکی یې مات شي."*** (دا ورایت امام احمد، ابو داود او ابن حبان کړی دی)

امام احمد له عمرو ابن حزم الانصاري څخه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم زه په داسې حال کې ولیدم چې پر یوه قبر مي تکیه کړې وه او راته وې ویل: «**لَا تُؤْذِ صَاحِبَ الْقَبْرِ**» ***ژباړه:*** *د قبر څښتن مه ځوروه.*

امام مسلم او احمد له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «**لَأَنْ يَجْلِسَ أَحَدُكُمْ عَلَى جَمْرَةٍ مُتَحَرِّقَةٍ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَجْلِسَ عَلَى قَبْرٍ**» ***ژباړه:*** *د یو چا لپاره غوره ده چې پر توده سکروټه کېني او خپل ځان وسوځوي، نه دا چې پر یوه قبر کښېني.*

ب: د مړي د جسد د ټوټه کولو (مثله) په تړاو، د مړي سترګه ایستل یا په داسې ډول څېرل چې زړه، پښتورګی، ینه یا سږي یې وایستل شي او داسې چا ته پیوند شي چې اړتیا ورته لري دا چاره د مړي د جسد په ټوټه کولو (مثله) کې راځي او مثله په اسلام کې حرامه ده.

بخاري له عبدالله ابن زید الانصاري څخه روایت کړی نوموړی وایي: «**نَهَى رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم عَنِ النُّهْبَى وَالْمُثْلَةَ**» ***ژباړه:*** *رسول الله صلی الله علیه وسلم د لوټولو او بڼې بدلولو (مسخ کولو) څخه منعه کړې ده.*

امام احمد، ابن ماجه او نسایي له صفوان بن عسال څخه روایت کوي، نوموړی وایي رسول الله صلی الله علیه وسلم مور د سریې لپاره ولېږلو او راته وې فرمایل: «**سِيرُوا بِاسْمِ اللهِ، وَفِي سَبِيلِ اللهِ، قَاتِلُوا مَنْ كَفَرَ بِاللهِ، وَلَا تُمَثِّلُوا وَلَا تَغْدُرُوا وَلَا تَقْتُلُوا وَلِيداً**» ***ژباړه:*** *په بسم الله او د الله سبحانه وتعالی د رضا په خاطر حرکت وکړئ. له هغه چا سره جګړه وکړئ چې پر الله ایمان نه لري. مثله مه کوئ، خیانت مه کوئ او ماشومان مه وژنئ.*

د پورته ذکر شویو دلایلو له مخې، څرګنده شوه چې ژوندي کس ته د مړي د جسد د يو غړي انتقال ـکوم چې وینه یې سپېڅلې ده ـپه شریعت کې حرام دي.

په شریعت کې دا نه دي راغلي چې په حرامو سره درملنه روا ده لکه، په الکولو درملنه. ځکه نو د دې جواز هم شته چې د مړي څخه دې ژوندي کس ته یو غړی انتقال شي، ان که یاد انتقال حرام هم وي؛ دا نا سمه ده. ځکه په شریعت کې په حرامو او ناولو شیانو سره درملنه په هغه صورت کې جواز لري چې د ګناه یا نورو ته د زیان رسولو لامل نه شي. ابن ماجه له طارق ابن سوید الحضرمي له قوله وايي: «**قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ بِأَرْضِنَا أَعْنَابًا نَعْتَصِرُهَا فَنَشْرَبُ مِنْهَا قَالَ لَا فَرَاجَعْتُهُ قُلْتُ إِنَّا نَسْتَشْفِي بِهِ لِلْمَرِيضِ قَالَ إِنَّ ذَلِكَ لَيْسَ بِشِفَاءٍ وَلَكِنَّهُ دَاءٌ**» **ژباړه**: *ما وویل اې د الله رسوله! زموږ په ځمکه کې انګور شته چې موږ یې نښتېځو (تر څو شراب ترې جوړ شي) ایا موږ یې څښلی شو؟ ده صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نه. ما پوښتنه تکرار کړه او ومې ویل: موږ د ناروغ درملنه پرې کوو. ده صلی الله علیه وسلم وفرمایل: شراب درملنه نه ده، بلکې ناروغي ده.*

دا د ناولو شیانو یا حرامو «الکول» د حرمت دلیل دی، که څه هم رسول الله صلی الله علیه وسلم د ناولو شیانو د کارولو اجازه ورکړې ده لکه؛ د اوښ متیازې «**أَنَّ نَاسًا مِنْ عُرَيْنَةَ اجْتَوَوْا الْمَدِينَةَ فَرَخَّصَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم أَنْ يَأْتُوا إِبِلَ الصَّدَقَةِ فَيَشْرَبُوا مِنْ أَلْبَانِهَا وَأَبْوَالِهَا...**» **ژباړه**: د *عرينه له قبیلې څخه ځینې خلک مدینې ته راغلل او د مدینې له اب او هوا سره یې توافق نه درلود، نو رسول الله صلی علیه وسلم دوی ته اجازه ورکړه چې د اوښانو ګورم (د زکات اوښان) ته لاړ شي او دوی د هغوی شیدې او متیازې (د درملو په توګه) وڅښلې.* [بخاري له انس رضي الله عنه څخه دغه روایت کړی دی]

دوی مدینې ته راغلل او د دوی وجود د مدینې له اب او هوا سره توافق نه درلود او ناروغ شول، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم دوی ته د ناولو شیانو د کارولو اجازه ورکړه، یعنې د اوښ میتازې د درملو په توګه. همدا راز رسول الله صلی الله علیه وسلم په درملنه کې د حرامو اجزاوو د کارولو اجازه ورکړې ده لکه، د نارینه وو له لوري وربښمین ټوکر اغوستل. د ترمذي او احمد اخراج او ترمذي د انس رضي الله عنه خبره را نقلوي: «**أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَوْفٍ وَالزُّبَيْرَ بْنَ الْعَوَّامِ شَكَيَا الْقَمْلَ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فِي غَزَاةٍ لَهُمَا، فَرَخَّصَ لَهُمَا فِي قُمُصِ الْحَرِيرِ. قَالَ: وَرَأَيْتُهُ عَلَيْهِمَا**» **ژباړه**: *عبدالرحمن بن عوف او زبېر بن العوام رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د جګړې پر مهال له سپږو څخه شیکایت وکړ. نو ده صلی الله علیه وسلم دوی ته د وربښمینو جامو په تن کولو اجازه ورکړه. ده (انس رضي الله عنه) وویل: ما دوی ولیدل چې دا جامې یې اغوستې وې.*

پورته یاد شوي دوه حدیثونه د دې نښې (قرینې) دي چې د ابن ماجه په حدیث کې حراموالی قطعي نه دی، په دې مانا چې په ناولو او حرامو شیانو سره درملنه مکروه ده.

دا دلایل ښیي چې شریعت په ناولو او حرامو شیانو سره درملنې ته جواز ورکړی دی او دا ډول درملنه یې د مکروهاتو په ډله کې راوستې ده، خو په ناولو شیانو سره درملنه "د اوښ متیازې" او په درملنه کې د حرامو توکو کارول "د وریښمینو جامو اغوستل" په هغو حرامو باندې د درملنې سره توپیر لري چې پر نورو باندې د تیري په مټ ترسره کېږي. وروستی ډول درملنه د استثنا په ډله کې نه راځي، یعنې په حرامو سره درملنه د بېل واقعیت له مخې. د بېلګې په ډول، ایا په شریعت کې دا روا ده چې پر یو ژوندي شخص دې تېری وشي او پښتورګی یې په زور وایستل شي، ترڅو  د یو داسې ناروغ درملنه پرې وشي چې پښتورګي ته اړتیا لري (لکه څرنګه چې د دوی په اصطلاح د درېیمې نړۍ هیوادونو ماشومان او لویان د دې لپاره تښتول کېږي، ترڅو د بدن غړي یې د پیوند په موخه وایستل شي او د دوی په اصطلاح د پرمختللو هیوادونو ناروغانو ته پیوند شي) البته ځواب دا دی چې دا کار له دې امله حرام دی، چې د نورو پر حقونو تېری کېږي. هغه حرام توکي چې د درملنې لپاره کارول کېږي په هغو حرامو کې نه راځي چې پر نورو د تېري کولو ښکېلتیا پکښې وي، ځکه په حرامو سره د روا والي دلیل پر دې د پلي کېدو وړ نه دی. له همدې امله د داسې درملنې جواز نه شته چې د مړي پر جسد تېری پکښې کېږي او یو غړی یې ژوندي کس ته انتقالېږي، ځکه دا کار حرام ګڼل شوی دی او په دې کار سره د مړي د جسد بې حرمتي کېږي او د استثنا په حالت کې په حرامو سره د درملنې دلیل دلته د پلي کېدو وړ نه دی.

دویم: د اناټومۍ په تړاو ستا پوښتنه او دا چې حرمت یې د طب محصلین د انسان د وجود په اړه د پوهې او زده کړې څخه محرومويِ، نو دوی به خپل کارونه څه ډول مخ ته وړي!؟ او بل دا چې د دې حرمت له وجې د عدلي طب ډاکټران د جرم په پېژندلو کې پاته راځي او د هغو مهمو معلوماتو مخه نیسي چې د پولیسو سره د حقایقو په موندلو کې مرسته کوي.

زما وروره! د مړي د جسد سپړلو د مخنیوي په تړاو ګڼ شرعي دلایل راغلي دي چې پورته ذکر شول. له همدې امله د مړي د جسد اناټومي په شریعت کې حرامه ده، ځکه دا پر مړي تېری دی، پرته له دې چې نور توجیهات په نظر کې ونیسو. د دې لپاره چې دا موضوع ښه روښانه شي، زه له تا څخه پوښتنه کوم: ایا زده کوونکو ته د انسان په جسد د پوهېدلو لپاره د دې جواز شته چې د یو ژوندي انسان پر جسد تېری وکړي او له وژلو پرته یې پر ټوټو ووېشي، لکه د خیټې پرانیستل او داخلي غړو سپړل؟ ستا ځواب به هرو مرو نه وي. دا به ناروا ګڼئ چې د یو ژوندي انسان پر جسد دې تېری وشي؛ نو بیا ولې تا ته دا پوښتنه پیدا کېږي چې د یوه مړي پر جسد دې تېری وشي او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «**كَسْرُ عَظْمِ الْمَيِّتِ كَكَسْرِهِ حَيّاً**» **ژباړه:** *د مړي هډوکي ماتول کټ مټ داسې دي لکه دی چې ژوندی وي او هډوکي یې مات شي.*

د شریعت احکام باید جدي ونیول شي، د دې جواز نه شته چې د هر ډول دلایلو لپاره دې بدلون ورکړل شي.

د طب د محصلینو د درسونو او د انسان د جوړښت په تړاو د زده کړو لپاره ډېرې جایزې وسیلې شته: سربېره پر دې مسلمانان باید عصري او پرمختللو میتودونو ته وده ورکړي، ترڅو محصلین په ښه توګه د جسد د سپړلو پرته د انسان جسد تشخیص کړي، د بېلګې په ډول، د داسې کمپیوټري پروګرامونو وده او پراختیا چې په مټ یې زده کوونکي وکولی شي چې د انسان د بدن غړي په درې بعدي بڼه په برقي ډول وپېژني... او داسې نور، یا هم د عکاسۍ له داسې وسیلو څخه ګټه واخلي چې د انسان د وجود له بهر څخه د انسان دننه برخه وښيي او داسې نور، البته د عصري تکنالوژۍ څخه په ګټنې. د یادونې وړ ده چې ځینو د طب محصلینو ما ته ویلي چې دوی د انسان د جسد ازمویني څخه په زده کړو کې ډېره ګټه نه ده اخیستې، په ځانګړې توګه کله چې ټوټه شوي جسدونه پر برخو ووېشل شي چې له امله یې د د وینې د رګونو او عضلو په ماهیت کې بدلون راځي او دا د ژوندي جسد له ماهیت سره یې ډېر توپیر لري.

دا د جرم پېژندنې له سپړلو سره ورته دی، دا نا سمه ده چې د مړي پر جسد دې ازموینه ترسره شي، ځکه الله سبحانه وتعالی دغه کار حرام کړی دی، لکه څه رنګه چې د جرم معلومولو په موخه د متهم شکنجه حرامه شوې ده. حللاره دا ده چې له روا وسایلو او طریقو څخه کار واخیستل شي، ترڅو حقایق معلوم شي، نه دا چې د شریعت احکام تر پښو لاندې شي او د مړي د جسد بې احترامي وشي. دغه راز د مړي درناوی د هغه په ښخولو کې دی.

**درېیم:** د نر او ښځې د اختلاط په اړه ستا پوښتنه؛ دا یوه مبهمه پوښتنه ده. تاسو د اختلاط په اړه د شریعت د ټولو احکامو په اړه پوښتنه کړې ده! دا به غوره وای چې د یوه ځانګړي شي په تړاو مو پوښتنه کړې وای، ترڅو موږ ځواب درکړی وای. خو بیا هم زه تاسو ته د اختلاط په تړاو زموږ د پخوانیو ځوابونو یوه برخه دلته راوړم، ښایي ستا د پوښتنې ځینو اړخونو ته ځواب وویلی شي. که کومه ځانګړې موضوع بې ځوابه پاته شي، نو بیا یې راته ولېږه.

د ۲۰۱۰/فبروري/۲۸ نېټې په خپره شوې پوښتنه او ځواب کې داسې راغلي:

«په اسلامي ژوند کې د نارینه او ښځو شتون د رسول الله صلی الله علیه وسلم له لوري او د شرعي دلایلو پر مټ تایید شوی، چې له مخې یې د نارینه او ښځو ترمنځ اړیکې تنظیم شوي دي. دا ټول په ډېر واضح ډول ښودل شوي دي او پر یادې موضوع تر یوه زیات ځوابونه خپاره شوي دي. موږ هیله لرو چې یاده موضوع به ګونګه نه وي.»

خو بیا هم د الله سبحانه تعالی په خوښه به د دې پوښتنې په ځواب کې نور تفصیل هم وړاندې کوم په دې هیله چې په دې موضوع کې نور ابهام پاته نه شي:

د عامه ژوند مانا په عامه ځایونو کې د نارینه او ښځو شتون دی، چې دغو ځایونو ته د داخلېدو پر مهال د اجازې اړتیا نه پېښېږي. په دې اړه شرعي احکام راغلي چې له مخې یې نارینه او ښځې په عامه ځایونو کې تنظیمیږي.

شخصي ژوند مانا هغه ځایونه چې د داخلېدو لپاره یې اجازې ته اړتیا شته، لکه کورونه. په دې اړه هم شرعي احکام شته چې له مخې یې په شخصي ځایونو کې د نارینه او ښځو شتون تنظیمیږي.

شخصي ژوند (کورونه) واضح دي او زیاتو توضیحاتو ته اړتیا نه لري. ښځې له خپلو محارمو سره هلته ژوند کوي او پردي کسان نه وي، پرته له دې چې په اړه یې یو نص راغلی وي او یو ځانګړی حالت وي لکه صله رحمي. د دې جواز شته چې نارینه خپلوان له ښځینه خپلوانو سره ووینې، البته که محارم هم نه وي. لکه څنګه چې یو نارینه د کاکا زوی د کاکا له ښځینه لور سره د اختر په رخصتیو کې ویني، البته دا شی پکې شرط دی چې ښځه به یوازې (خلوة) نه وي او عورت به یې پټ وي، د بېلګې په ډول یاد کس له خپل پلار یا کاکا سره د صله رحمی له مخې د دې کور ته ځي او ورسره ویني په داسې حال کې چې دغه ښځه د ده محرمه نه ده.

د عامه ژوند په تړاو، که د ښځو او نارینه وو ترمنځ د یوې ناستې اړتیا پېښه شي چې شریعت جواز ورکړی وي، دغه ناسته باید په داسې ډول ترسره شي چې شریعت تایید کړې وي او د شریعت تاییدېدل دا مانا چې په شریعت کې د دې ډول مجلسونو د تنظیم په اړه احکام راغلي وي لکه په لاندې ډول:

۱. که د شرعي اړتیا له مخې د دوی تر منځ ګډه ناسته اړینه وي، نو د نارینه او ښځو د قطارونو بېلوالی فرض دی. که یادې ناستې د یوه هدف لپاره وي لکه، د نارینه وو او ښځو شتون د لمانځه، زده کړو، د دعوت په اړه خبرو اترو یا د دعوتي فعالیتونو عمومي تنظیم. په دغو صورتونو کې، نارینه باید له ښځو سره په داسې ډول حضور پیدا کړي چې د قطارونو بېلوالی یې تر منځ شتون ولري او دغه کار ته د ځانګړي حکمونو پر بنسټ کله ناکله عامه ژوند وایې، یعنې د نارینه وو او ښځو ترمنځ د ناستې لپاره یوه ځانګړې طریقه شته.

۲. اړینه (فرض) نه ده چې په هغو عامه ځایونو کې قطارونه بېل شي چې شریعت پکې د نارینه او ښځو شتون ته اجازه ورکړې ده، که څه هم اختلاط د بېلا بېلو موخو لپاره وي لکه، په مارکیټونو، سړکونو، عامه پارکونو یا عامه بسونو کې د نارینه وو او ښځو شتون. دا په دوه ډوله دي:

الف: ځینې چارې له اختلاط پرته نه شي ترسره کېدای، یعنې اختلاط په دې مانا چې یو بل ته نژدې کېدل او خبرې کول، لکه په بازارونو کې پیر او پلور. دغه ډول اختلاط روا دی.

ب: ځینې چارې داسې هم شته چې له اختلاط پرته سرته رسېدای شي، یعنې له اختلاط او یو بل ته د نژدې پاته کېدلو او خبرو پرته، لکه په عامه بسونو، عامه پارکونو او سړکونو کې د تېرېدلو پر وخت یادې چارې ترسره کېږي. په دغه حالتونو کې د نارینه او ښځو شتون له اختلاط پرته زیات دی پرته له دې چې یو بل ته نژدې پاته شي او خبرې سره وکړي. که څه هم دوی په یوه ځای کې دي، خو هر یو خپل مقصد لري او له یو بل سره خبرې نه کوي، لکه پر سړکونو تېرېدلو، په پارکونو کې کېناستل او عامه بسونو کې د سپرېدلو پر مهال هر یو خپلې موخې لري.

لکه څرنګه چې تاسو یې وینئ، په شخصي او عامه ژوند کې د نارینه او ښځو د شتون په تړاو احکام بشپړ واضح شول:

شخصي ژوند (کور)، هغه چې د داخلېدو لپاره اجازې ته اړتیا لري او عامه ژوند هغه چې د داخلېدو لپاره اجازې ته اړتیا نه شته. له همدې امله خو په عامه ژوند کې د قطارونو د بېلوالي اړتیا شته، خو په ځینو حالتونو کې بیا اړتیا نه شته چې د نارینه او ښځو قطارونه بېل شي، همدارنګه په عامه ژوند کې ښایي اختلاط جواز ولري لکه، یو بل ته نژدې کېدل او خبرې کول. داسې اختلاط هم شته چې یو بل ته نژدې کېدل او خبرې کول پکې ناروا دي، په دې صورت کې له خبرو کولو پرته نر او ښځې په یو ځای کې حضور پیدا کولای شي، خو د خبرو کولو جواز نه لري... پای

هیله ده چې همدورمه به بس وي.

د ۲۰۱۱/فبروري/٦ مې نېټې د پوښتنې په ځواب کې راغلي:

... خو په پوځ کې به ښځینه روغتیاپالانې وي، چې په جګړو کې د زخمیانو درملنه کوي. ویل کېږي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ښځو ته اجازه ورکړې وه چې د جګړې ډګر ته لاړې شي، ترڅو د زخمیانو پالنه او درملنه وکړي، ځکه نو د درملنې په صورت کې یې یوځای والی روا دی. بخاري په «الادب المفرد» او «التاریخ الصغیر» کې د الباني په صحیح سند او هغه له محمود ابن لبید څخه روایت کړي دي، وایي:

**«لَمَّا أُصيبَ أَكْحَلُ سَعْدٍ يَوْمَ الخَنْدَقِ فَثَقُلَ، حَوَّلوهُ عِنْدَ امْرَأَةٍ يُقالُ لَها: رُفَيْدَة، وَكانَتْ تُداوي الجَرْحى، فَكانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم إِذا مَرَّ بِهِ يَقولُ: كَيْفَ أَمْسَيْتَ؟ وَإِذا أَصْبَحَ: كَيْفَ أَصْبَحْتَ؟ فَيُخْبِرُهُ»**

***ژباړه:*** *کله چې د خندق په غزا کې د سعد سترګه ژوره ټپي شوه، دوی سعد د یوې ښځې کور ته چې رفیده نومېده د درملنې په موخه یووړ. کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم تېرېده نو پوښتنه به یې کوله چې ماښام څنګه وې او کله چې به سهار و نو پوښتنه یې ځنې کول، نن سهار څنګه یې؟ او په دغه ډول به یې د ده خبر اخیسته.*

رفیده د اسلم له قبیلې ښځه وه او د زخمیانو درملنه به یې کوله.

یوځای والی (اختلاط) لکه څرنګه چې مخکې یادونه وشوه؛ د پردي نارینه وو او ښځو ترمنځ له اړتیا پرته هره ناسته د دې ایجاب کوي چې له شریعت څخه باید جواز ترلاسه کړي، که د دوی لیدل له ناستې پرته ناشوني وي، لکه په دغه حالت کې چې اړتیا یې نه شته، ناروا ده. خو که د ناستې اړتیا وه، په شریعت کې یې باید د جواز پلټنه وشي، که اړتیا داسې وي چې له ناستې پرته نه پوره کېږي، نو په دې صورت کې جواز ورکول کېږي.

په شریعت کې ځینې دلایل شته چې د ځانګړو اړتیاوو له مخې دې ډول ناستې ته جواز ورکوي، هغه که په شخصي ژوند کې وي یا عامه ژوند کې، د بېلګې په ډول په شخصي ژوند کې له دوستانو سره لیدنه، په دې اړه شرعي دلایل شته چې د صله رحمی، ډوډۍ خوړولو او د ناروغ د پوښتنې اجازه ورکوي. په عامه ژوند کې په جګړو کې د زخمیانو درملنه، بازارونو ته تګ، په مساجدو کې لمونځ، په ښوونیزو مرکزونو کې ګډون او حج کول؛ دغه ټول د شریعت له احکامو سره سم په دې شرط جواز لري چې د نارینه او ښځو ډلې سره بېلې وي، لکه په مساجدو او عامه لیکچرونو کې د ټولګیو بېلوالی یا د ټولګیو له بېلوالي پرته لکه په بازارونو او حج کې.

صله رحمي (د خپلوانو او دوستانو ترمنځ د اړیکو پالنه)؛ دا نه یوازې د محارمو دوستانو لپاره ده، بلکې د غیر محارمو دوستانو لپاره هم جواز لري، لکه د ښځینه کاکا لور صله رحمي (د نارینه کاکا زوی سره) د صله رحمۍ په اړه "د اسلام ټولنیز نظام" کتاب وګورئ. له همدې امله دوستانو ته جواز شته چې د اختر په رخصتیو یا نورو مناسبتونو کې یو له بل څخه لیدنه وکړي او یو له بل سره کېني، خو د صله رحمي په موخه. یعنې د روغتیایي حالت پوښتنه یې وکړي، وضعیت یې ځان ته مالوم کړي، د ناروغ څخه یې لیدنه وکړي او د اړتیاوو په پوره کولو کې مرسته ورسره وکړي او داسې نور. خو د لوبو کولو لپاره نه شي سره کېناستلای، د بېلګې په ډول، مېلې ته ګډ تګ یا په باغ کې ګډه ناسته او بانډار. دا کار بیا ناروا دی. پای.

له همدې امله، له یوه بل سره د دوستانو لیدل، د نارینه او ښځو ګډ کېناستل په هغه صورت کې روا دي چې موخه ترې صله رحمي وي؛ ځکه ګډ کېناستل د دوستۍ او قرابت لپاره یوه اړتیا ده. که مجلس د صله رحمۍ له موضوع څخه بل لور ته ځي، نو ښځې دې په یوه خونه او نارینه دې په بله خونه کې کېني. د دې جواز هم شته

چې د ډوډۍ خوړلو په وخت کې ګډ کېني او کله چې د ډوډۍ خوړلو پروګرام ختم شي، نو ښځې دې په یوه خونه او نارینه دې په بله خونه کې کېني.

**[فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوا وَلا مُسْتَأْنِسِينَ لِحَدِيث]** (الاحزاب:۵۳)

***ژباړه:*** *خو کله چې خواړه وخورئ، نو خواره شئ په خبرو کولو کې مه بوختېږئ.*

د صله رحمۍ او ډوډۍ خوړلو په تړاو ځینې دلایل شته. هغه ښځې چې عورت یې پټ وي او محرم یا خاوند یې حاضر وي خواړه ګډ خوړلای شي. لکه په ټولنیز نظام کې چې یې یادونه شوې ده. پای.

د هغې پوښتنې په ځواب کې چې د ۲۰۱٦/جون/ ٦نېټې خپور شوی داسې راغلي دي:

الف: یوځای والی (اختلاط) (د پردیو نارینه وو او ښځو ناسته) په هغه صورت کې حرام دی، چې اړتیا یې نه وي او د شریعت له لوري جواز نه وي ورکړل شوی. خو که د ناستې اړتیا وي او شریعت اجازه ورکړې وي چې سره کېني، نو بیا جواز لري.

هیله لرم چې ستا د دریو پوښتنو ځواب به مې درکړی وي.

**ستاسې ورور عطا بن خلیل ابو الرشته**

**۱۴۴۰هـ.ق د ربیع الاخر ۲۳مه**

**۲۰۱۸ د ډېسمبر ۳۰مه**